




# Orientation to Ontario

# استوګنځی

## د استوګنځي غوراوي (اپشنونه)

**لنډمهاله (موقتي ) استوګنځی** - کله چې تاسو په لومړي ځل اونټاریو ته ورسیږئ، تاسو ممکن د اوسېدو لپاره لنډمهاله ځای ته اړتیا ولرئ. لیلیې د هوټلونو ارزانه بدیلونه دي. د لنډمهاله کور موندلو لپاره، په خپله سیمه کې د ګرځندوی ویب‌پاڼې وپلټئ یا د ګرځندوی لارښود کتاب واخلئ چې استوګن‌ځایونه په کې لیست شوي وي.

**غیر انتفاعي استوګنځایونه Co-op**: د Co-ops ملکیت دی او د غړو یا اوسېدونکو لهخوا اداره کېږي، مګر اوسېدونکي د دې کورونه ملکیت نه لري. تاسو باید په یو co-op کې د اوسېدو لهپاره غوښتنه وکړئ او کرایه معمولاً د اوسط څخه ټیټه وي. د لا زیاتو معلوماتو لهپاره onpha.on.ca یا findlink.at/NPHousing وګورئ.

## د حکومت په مرسته یا د دولت په ملاتړ(سبسایډي) جوړ

**شوی کور** - د دولت په ملاتړ د جوړو شویو کورونو کرایه ستاسو د عاید پراساس ده. ډېرى خلک د دې ډول کور لهپاره د منتظرونو په لیستونو کې کلونه تېروي. د لا زیاتو معلوماتو لهپاره، ontario.ca یا findlink.at/housing ته مراجعه وکړئ

تاسو کولی شئ د مېشتېدنې له مشاور څخه د مرستې غوښتنه وکړئ. تاسو ته نږدې د استوګنی اداری موندلو لپاره settlement.org/findhelp ته مراجعه وکړئ.

**سرپناه** – پناه ځایونه د هغو خلکو لهپاره لنډمهاله ببړنې کورونه چمتو کوي چې بې کوره یا په بحران کې دي. په خپله سیمه کې د سرپناه موندلو لهپاره 211 ته زنګ ووهئ.

**د مشرانو لهپاره کورونه** - په اونټاریو کې د مشرانو لهپاره بېلا بېل ډول کورونه شته. د لوړپوړو چارو وزارت ته په *1-888-910-1999* زنګ ووهئ یا ontario.ca یا findlink.at/seniorguid ته مراجعه وکړئ.

## د ثانوي زده کړو وروسته د زده کوونکو استوګنځایونه

پوهنتونونه او کالجونه د اضافي لګښت په مقابل کې د خپلو زده کوونکو لهپاره استوګنځایونه چمتو کوي. د پوهنتون یا کالج دننه استوګنځایونو کې اکثره وخت خواړه هم شامل وي. د نورو معلوماتو لهپاره د پوهنتون یا کالج د استوګنې څانګې سره اړیکه ونیسئ چې تاسو په کې د ګډون پلان لرئ. د زده کوونکو استوګنځایونه کله ناکله په اوړي کې له زده‌کوونکو پرته د نورو خلکو لهپاره هم د لاسرسي وړ وي

## اپارتمان یا کورپه کرایه نیول

د استوګنځي د کرایه کولو قانون (RTA) ټول هغه مقررات لري چې د کور مالکین او کرایه ورکوونکي یې باید تعقیب کړي. دا قانون په ontario.ca یا findlink.at/RTAct کې په انلاین بڼه ولولئ،

همدارنګه کولی شئ د کور مالک او کرایه کوونکو بورډ ته په *1-888-332-3234* شمېره زنګ ووهئ یا ltb.gov.on.ca ته مراجعه وکړئ.

- کیدای شي تاسو څخه وغوښتل شي چې د اجارې یا کرایې قرارداد لاسلیک کړئ - د کرایې قرارداد یو د یوه ټاکلي وخت، معمولاً د یوه کال لهپاره وي.
- کیدای شي تاسو وغوښتل شي چې مخکې له وتلو یا نقل مکان څخه د تېرې میاشتې کرایه ورکړئ.
- ممکن له تاسو څخه د استوګنځي د ښه او روغ ساتلو په موخه د تضمین په ډول ځینې پیسې وغوښتل شي او که له کور څخه د وتلو پرمهال مو کور نه وي خراب کړی دا پیسې به بېرته درکول کېږي.
- معمولا له تاسو څخه غوښتل کېږي چې د هرې میاشتې په لومړۍ ورځ خپل کرایه ورکړئ.
- ستاسو د اسانتیاوو لګښت لکه تودوخه او برېښنا ممکن ستاسو په کرایه کې شامل وي یا تاسو باید د هغو بېلې پیسې ورکړئ.

د استوګنځي په اړه د نورو معلوماتو لپاره settlement.org یا findlink.at/housinging وګورئ.

## د کرایې استوګنځی موندل

په newspaperscanada.ca یا findlink.at/Newspapers کې ستاسو د ټولنې په ورځپاڼو کې ډلبندي شوي اعلانونه وګورئ



1-855-626-0002
https://settlement.org/o2o

Funded by / Financé par :

Ontario

Immigration, Refugees and Citizenship Canada

Immigration, Réfugiés et Citoyenneté Canada

په خپل محل کې ”د اپارتمان شته“ یا ”د کرایې لهپاره“ نښې وګورئ. viewit.ca ته مراجعه وکړئ.

## کور اخیستل

- د کوراخیستو په موخه پورتر لاسه کولو د تاییدېدو لهپاره تاسو باید ښه اعتبارولرئ. د اعتباري مخینې جوړولو د څرنګوالي په اړه له خپل بانک سره خبرې وکړئ.
- کله چې د کور اخیستلو وړاندیز کوئ، وړاندیز مو باید د کور په کتلو او ارزولو پورې مشروط وي. که مفتش ومومي چې کور ترمیم ته اړتیا لري تاسو کولی شئ خپل وړاندیز لغوه یا بدل کړئ.

په دې اړه د نورو معلوماتو لپاره په cmhc.ca یا findlink.at/CMHCnc کې د نویو راغلو کسانو لهپاره په کاناډا کې ګروي او استوګنځي اړوند شرکتي لاربښود.

### ایا پوهیږئ؟

**ډیری خلک په اونټاریو کې د کور اخیستلو لهپاره پیسې په پور اخلي. تاسو کولی شئ په خپل بانک کې یا ګروی لهپاره له پور ورکوونکي څخه د کور اخیستو لهپاره د پور اخیستو غوښتنه وکړئ.**

